سباوون زرمل ۲۰۱۰/۱۲/۹

# جنگسالار لویه ځارنوالی او ستره محکمه تحدید کړه

تیره شپه می په خبرونو کی ولیدل چې په زور او زر کامیاب شوی وکیلان د ولسی جرگی په تالار کی سره را ټول شوی وو او د جمهور رئیس نه غوښتنه کوله چې هر څومره ژر چې کیږی باید ولسی جرگه افتتاح شی د خبرو په ترڅ کی ولسی جرگی ته د جلال آباد نه کامیاب شوی وکیل ظاهر قدیر د ستیج سر ته ولاړ او په ډیرغرور او تکبر سره ئی لوئی ځارنوالی او ستری محکمی ته اخطارونه ورکړل او وئی ویل چې لویه ځارنوال باید د پلټنو نه لاس واخلی او که نه نو دوی به هغوی صلب صلاحیت کړی او په کور کی به ئی کینوی نو د دوی خوښه چې کورته ځی او برطرفی غواړی او که کار کوی هغه بیا ستری محکمی ته هم اخطار ورکړ او وی ویل چې دوی هم ټول سر پرست دی او د دوی آینده هم په پارالمان پوری تړلی ده نو باید اوسنی پارلمان ته ټاکل شوی وکیلان تائید کړی او د دوسیو له څیړلو ډډه وکړی.

خدای دی په داسی ولس او ملت رحم وکړی وختی چې یو جنگسالار د پیسو او نا مشروع قدرت له لاری پارلمان ته لاره پیدا کوی او هغه بیا د دولت ستر قضائی ارگان تحدیدوی او ځارنوالی او ستره محکمه بیا دا صلاحیت نلری چې آزادی او عادلانه پریکری و کړی نو د داسی ولس او خلکو سرنوشت به څرنگه وی؟ آیا دا ولس د جمهور رئیس په صفت هم ځوک لری او آیا جمهور رئیس خپل مسئولیت پیژنی چې دی د اساسی قانون د پلی کولو او خلکو د حقوقو د ساتلو دنده لری؟ آیا دا هم دولت ده چې په دومره تقلب او جعل سره انتخابات سرته رسیږی او بیا د انتخاباتو د شکایتونو د څیړلو مخکی د انتخاباتو نتجی اعلانیږی وختی چې لویه ځارنوالی او ستره محکمه نشی کولای عدالت تامین کړی او د زور واکو نه پوښتنه وکړی او یا هم د تلویزیون له لاری یو کس دوی تحدیدوی او جمهور رئیس هم د هغو نه دفاع نشی کولای نو آیا دی ته دولت ویل کیږی؟ او بیا دوی غواړی چې په دی وطن کی دی سوله راشی او یا دا چې ولی خلک د دولت نه بیزاره کیږی او د طالبان خوا ته ورځی.

جناب ظاهر قدیر صاحب تاسو چې په زور او تقلب سره کامیاب شوی یاست او پارلمان ته مو لاره پیدا کړی باید پوه شی چې تاسو د خلکو استازی نه یاست تاسو ته خلکو رائی نه دی درکړی بلکی تاسو د درغلیو له لاری وکیل شوی یاست! آیا تاسو کله هم د ځان سره دا سوچ کړی او یا ئی کوی چې تاسو پرته له ملیونو ډالرو چې د چور او مخدره موادو د قاچاق له لاری مو پیدا کری نوری کومی ښیگڼی لری؟ آیا تاسو ډیری عالی زده کړی لری، آیا تاسو خلکو او هیواد ته کوم د قدر وړ خدمتونه کړی؟ آیا تاسو د کوم غریب او مسکین سره مرستی کړی؟ او آیا تاسو د کوم یتیم او کونډی اوښکی وچی کړی؟ چې تاسو دومره مغرووره یاست چې د تلویزیون له لاری لویه ځارنوالی او ستره محکمه تحدیده وی حتما تاسو فکر کوی چې تاسو د قانون او عدالت نه پورته یاست او واجب الاحترام او ټول خلک باید ستاسو احترام وکړی. تاسو که د لوی ځارنوال او یا هم قاضی قضات پروا نه ساتی خو باید پوه شی چې هغه د دی هیواد ستر عدلی او قضائی ارگانونه دی او د هغو د مقام درناوی باید وشی. غرور او لوئی یوازی د لوی خدای لپاره ښه ده د چور او غلا په پیسو ځوک مقام او درجه نه پیدا کوی له تاسو سره دا ښائی چې تاسی د خپل پلار نوم او نښان وساتی او تل د عدالت او قانون نه دفاع و کړی تاسو له جلا ل آباد نه بهر هیڅوک هم نه پیژنی ولی ستاسو پلار خلکو پیژاند نو تاسو هیڅکله باید داسی خبری و نکړی چه خدای ناخواسته ستا په خبرو خلک ستاسو له پلار نه هم بیزاره شی. که چیری ستاسو هدف پارلمان ته له تلو څخه د خلکو او وطن خدمت وی او یا داچی تاسو په رښتیا د خلکو له خوا ټاکل شوی یاست نو باید پریږدی چې دلته قانون عملی شی او هیڅوخت د قانون د پلی کیدو مخه مه نیسی آیا تاسو ونه لیدل چې په دی انتخاباتو کی څومره درغلی و شوی؟ او آیا تاسو دا نه منی چې په دی انتخاباتو کی د دخلکو او په خاص ډول د پښتنو حقوق تر پښو لاندی شول؟ حاجی صاحب قدیر د بن غونډه تحریم کړه ځکه هغه ویل چې په غونډه کی د پښتنو ونډه کمه وه او له غونډی سره ئی پریکړون وکړ اما تاسو د خپل ځان د وکیل کیدو په خاطر د ځارنوالی او ستری محکمی نه غواړی چې باید د درغلیو پلټنه ونکړی. تاسو باید پوه شی چې د وکیلانو دنده دا هم ده چې باید د قانون د پلی کولو دفاع وکړی او ضمانت وکړی چې قانون پلی شی تاسو باید د ولسی جرگی د تربیون له لاری لوئی ځارنوالی او ستری محکمی ته په ډاگه ویلی وای چې که تاسو دقیقی پلټنی و نکړی او عدالت تامین نکړی نو تاسو به صلب صلاحیت کړو اما تاسو دهغو نه د قانون د ماتولو غوښتنه وکړه. تاسو مخکی له دی چې حتی یوه ورځ هم په پارلمان کی تیره کړی بیا خلک او د قانون د پلی کولو ارگانونه تحدیدوی. تر څو پوری به په دی هیواد کی خلک تحدیدیږی؟ آیا ستاسو په نظر دا ښه کار ده چې یو ځوک لویه ځارنوالی او ستره محکمه تحدید کړی؟ او پری ئی نه ږدی چې عدالت تامین شی. لکه مخکی می چې وویل که چیری تاسو ځان د خلکو استازی بولی


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او په تقلب باندی مو رائی نه وی اخیستی نو باید د عدلی او قضائی ارگانونو سره مرسته وکړی ترڅو ستاسو په کمک هغوی وکولای شی چی حد اقل په یوه مورد کی هم عدالت تامین کړی.

د افغانستان خلک سره له دی چی باور نلری چی په دی هیواد کی به قانون عملی شی او جنگسالاران او قانون ماتونکی به محاکمه شی ځکه تیرو لسو کلو وښوده چی دلته د قانون په نوم کوم شی وجود نلری دلته شهر نا پرسان ده هر زورور چی هر څه غواړی او کوی هغه کولای شی. دلته د انصاف او قانون طمعه کول بیځایه دی دلته یوازی او یوازی د ټوپک قانون چلیږی او هرهغه څوک چی زیات ټوپک ولری نو هغه واجب الاحترام دی. اوس به و گورو چی آیا لویه څارنوالی او ستره محکمه څه کوی زما په نظر که چیری دغه دواړه ارگانونه د انتخاباتو پایلو او نتجو ته غاړه کیږدی او یا هم د ظاهر قدیر له تحدیدونو و ویریږی نو نور به دافغانستان خلک بالکل نا امیده شی او دغه ارگانونه به خپل اعتبار بیخی له لاسه ورکړی البته دلته جمهور رئیس هم ډیر رول لری زما په نظر که چیری دا پارلمان جمهور رئیس افتتاح کړی نو هغه پنځه یا لس فیصده خلک چی د دولت نه دفاع کوی هغه به هم نا امیده شی او د مخالیفینو لیکی به نوری هم پیاوړی شی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ